## که چیرې تاسو د کډوال په توګه ومنل شئ، نو وروسته باید څه وکړئ

که چیرې تاسو د کډوال په توګه ومنل شئ یا تاسو ته بشري خوندیتوب درکړل شي، نو تاسو کولی شئ چې:

- کار وکړئ
- په شخصي توګه یې کرایه کړئ
- د ګټو ادعا وکړئ
- د شورا د استوګنځي لپاره غوښتنه وکړئ

ستاسو د پناه غوښتنې په اړه د کورنیو چارو وزارت (Home Office) د مثبتې پریکړې څخه به شاوخوا یوه اونۍ وروسته تاسو د خپل عکس سره د کډوالۍ رسمي سند ترلاسه کړئ.

دې ته د بایومتریکي استوګنې اجازه ویل کیږي. دا تاییدوي چې تاسو 'عامه فنډ یا بودیجې ته مراجعه کوئ'. دا هغه ثبوت دی چې تاسو کولی شئ په مرسته یې د ګټو ادعا وکړئ او د استوګنځي لپاره د مرستې غوښتنه وکړئ.

## د بې کورۍ د غوښتنلیک جوړول

وروسته له دې چې تاسو د کډوال په توګه ومنل شئ، نو تاسو به یوه خبرتیا ترلاسه کړئ (دا خبرتیا له 7 څخه تر 28 ورځو پورې وي).

تاسو ممکن دا خبرتیا ستاسو د استوګنې له اجازې سره په یو وخت کې ترلاسه کړئ.

کله چې تاسو ته د دې ځای د پرېښودلو امر شي، نو تاسو کولی شئ چې د بې کورۍ په تړاو ژر تر ژره ځایي شورا ته غوښتنلیک ورکړئ.

## تاسو باید کومې شورا ته غوښتنلیک ورانديې کړئ؟

تاسو هرې شورا ته خپل غوښتنلیک وړاندې کولی شئ.

که چیرې تاسو ځایي اړیکه ونه لرئ، نو تاسو ممکن بلې شورا ته راجع کړل شئ.

تاسو په هغه صورت کې ځایي اړیکه لرئ چې:

- تاسو په سیمه کې د پناه غوښتنې په استوګنځي کې ژوند کوئ

لاندې له شورا سره د ځایي اړیکې د ترلاسه کولو لپاره نورې لارې روښانه شوې دي، مهرباني وکړئ شیلټر ته په 0344 515 2000 شمیره (له دوشنبې تر جمعې، د سهار له 9 څخه تر 6 بجو) ته زنګ ووهئ ترڅو په دې اړه مشوره ترلاسه کړئ یا په دغه پته info@shelter.org.uk بریښنالیک واستوئ.

**په سیمه کې ځایي شوراګانې:**

د بریسټول د ښار شورا (BRISTOL CITY COUNCIL)

100 Temple Street, 100 Temple St, Redcliffe, Bristol BS1 6AG

0117 352 6800

د سویلي ګلوسټرشایر شورا (SOUTH GLOUCESTERSHIRE COUNCIL)

01454 868005 له دوشنبې تر پنجشنبې د سهار له 8:45 بجو څخه د ماسپښین تر 5.00 بجو او د جمعې په ورځ د سهار 8:45 څخه تر 4:30 بجو پورې

One Stop Kingswood Kingswood Civic Centre, High Street, Kingswood, Bristol, BS15 9TR

شمالي سمرسیټ شورا (NORTH SOMERSET COUNCIL)

01934 426 330

HP.Triage@n-somerset.gov.uk

ډیری شوراګانې د استوګنځیو د انتظار اوږده لیستونه لري. تاسو شاید په لومړیو کې شخصي کرایې کولو ته اړتیا پیدا کړئ.

د لندن او د انګلستان د سویلي سیمو کرایه د نورو سیمو په پرتله لوړه ده.

## شورا څه ډول مرسته کوي؟

که چیرې شورا دې پایلې ته ورسیږي چې تاسو بې کوره یاست او لومړیتوب لرئ، نو بیا تاسو کولی شئ چې بیړنی استوګنځی ترلاسه کړئ.

تاسو تل په هغه صورت کې لومړیتوب لرئ چې:

- ماشومان له تاسو سره ژوند وکړي
- حامله وئ
- د کورنی ناوړه ګټې اخیستنې له خطر سره مخ وئ
- عمر مو له 21 کلونو څخه کم وي او که چیرې تاسو 16 یا 17 کلن یاست، نو د ټولنیزو خدمتونو لخوا ستاسو پالنه کیږي

که چیرې داسې نه وي، نو په هغه صورت کې چې بل څه تاسو زیانمنوي، تاسو لومړیتوب لرئ. د مثال په توګه، معلولیت یا روغتیایي ستونزه.

د استوګنځي په قانون کې 'زیانمنونکي'('Vulnerable') ځانګړې مانا لري.

تاسو باید دا روښانه کړئ چې که چیرې تاسو بې کوره وئ، نو تاسو به د نورو ټولو کسانو په پرتله ډېر زیانمن شئ او احتمال لري چې په ورته حالت کې له ډېر زیان سره مخ شي. که چېرې تاسو روغتیایي لیکونه لرئ، نو ځایي شورا ته یې ورسوئ.

**د هغو کسانو لپاره خدمتونو چې د خوب کولو سم شرایط نه لري**

**سینټ منګوس (St Mungos)**: تاسو کولی شئ چې له ټیم سره په 0117 407 0330 شمیره له دوشنبې - جمعې د سهار له 9 بجو څخه د ماښام تر 5 بجو پورې د ټلیفون له لارې اړیکه ونیسئ یا په دغه پته bristolspot@mungos.org بریښنالیک واستوئ. که چېرې اوس مهال د خوب کولو له ستونزو سره مخ وئ او غواړئ چې د اوټریچ (Outreach) د ټیم غړي وګورئ، نو تاسو کولی شئ چې د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د سهار له 10 بجو څخه تر 12 بجو پورې زموږ سره د یوې عادي لیدنې لپاره نوي سړک ته په دغه پته تشریف راوړئ: 1 New Street, Bristol, BS2 9DX

**د ښځو لپاره د هیلې پسرلی: ټیلیفون:** 0117 405 7121

بریښنالیک: springofhope@inhope.uk

# د ګټو لپاره څه ډول غوښتنلیک ورکړئ

که چیرې تاسو پیسې نه لرئ یا مو عاید ټیټ دی، نو تاسو کولی شئ چې د نړیوال کریډیټ غوښتنه وکړئ.

څنګه چې د کډوال په توګه ومنل شوئ، نو غوښتنلیک ورکړئ. تاسو کولی شئ چې په آنلاین ډول په دغه پته: https://www.gov.uk/universal-credit/how-to-claim غوښتنلیک ورکړئ.

ستاسو د خپل لومړي نړیوال کریډیټ د تادیې د ترلاسه کولو لپاره لږترلږه 5 اونۍ وخت ته اړتیا لرئ.

تاسو باید د ګټو د ادعا کولو لپاره د ملي بیمې شمیره ولرئ. تاسو دا شمیره د خپلې بایومتریکي استوګنې د جواز شاته پیدا کولی شئ.

## د اتباعو له مشورې څخه په ادعا کولو کې مرسته

د اتباعو مشوره هغه خیریه اداره ده چې کولی شي له تاسو سره د نړیوال کریډیټ د غوښتنلیک په سپارلو کې مرسته وکړي.

د مشاور د ادعا کولو لپاره په **0800 144 8444** شمیره اړیکه ونیسئ

که چیرې تاسو په بله ژبه مشورې ته اړتیا لرئ، نو د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.

## تاسو څومره ترلاسه کوئ

که چیرې تاسو لاندې موارد ولرئ، نو نړیوال کریډیټ معیاري تخصیص او اضافي بونس لري:

- د هغه ځای کرایه ورکړئ چیرته چې اوسیږئ
- د ماشومانو او د ماشونو د پالنې لګښتونه
- هغه معلولیت چې ستاسو د کار مخه نیسي

تاسو د پناه غوښتنې د ملاتړ په پرتله ډیرې پیسې ترلاسه کوئ. مګر تاسو معمولا له دې پیسو څخه کرایه او بیلونه تادیه کوئ.

نړیوال کریډیټ معمولا په میاشتنۍ ډول تادیه کیږي نه په اونیز ډول.

که چیرې تاسو کار پیل کړئ یا نور عاید ولرئ، نو ستاسو تادیات به ټیټ وي.

د کډوالی مرسته باید کله چې تاسو د کډوال په توګه ومنل شئ، ژر تر ژره له تاسو سره اړیکه ونیسي، ترڅو د ګټو د ادعا کولو او د استوګنځي لپاره د غوښتنلیک په سپارلو کې مرستې وکړي.

**د بېړنۍ دندې هغه ټیم چې د مازدیګر له 5 بجو یا د اونۍ په پای کې ورته ټلیفون کړئ**

د بیړني ټولنیز کار خدمت د شپې، د اونۍ په پای، بانکي رخصتیو، شخصي، کورنۍ یا د استوګنځي د ستونزو سره د مرستې لپاره.

دوی باید څه وکړي؟

د بیړنۍ دندې ټیم د شپې، د اونۍ په پای او په بانکي رخصتیو، د حمام او شمالي ختیځ سومرسیټ، بریسټول، شمالي سومرسیټ او د سویلي ګلوسټرشایر د څلورو چارواکو لپاره د بیړني ټولنیز کار خدمت چمتو کوي.

دوی کولی شي چې له تاسو سره د شخصي، کورنۍ یا استوګنې په هغو ستونزو کې مرسته وکړي چې په دې وخت کې پر ناورین بدلیږي او تر بلې کاري ورځې پورې نه شي په تمه کېدلی.

څه ډول ستونزې؟

- له ماشومانو او ځوانانو سره ستونزې
- له کورنۍ څخه بهر د ماشوم په اړه اندیښنه
- د شدیدې رواني روغتیا ستونزې
- زاړه خلک په خطر کې دي
- د یو معلول کس په اړه اندیښنه
- د استوګنځي بیړنۍ مشوره

**01454 615 165 ته زنګ ووهئ.**

که چېرې انګلیسي ستاسو مورنۍ ژبه نه وي:

که چېرې انګلیسي ستاسو مورنۍ ژبه نه وي، نو د بیړنۍ دندې ټیم به ژباړونکي پیدا کړي، ترڅو تاسو دوی ته د خپلو اندیښنو په اړه خبر ورکړئ.

د بیړنۍ دندې د ټیم افسر به له تاسو سره د متني پیغام له لارې اړیکه ونیسي، ترڅو د تاسو د اندیښنو په اړه بحث وکړي. دا کار باید په 30 دقیقو کې ترسره شي، که څه هم چې د مشغولتیا په وخت کې دا ممکن ډیر وخت ونیسي.